**CHECK AGAINST DELIVERY**

**د اغلي آزاده راز محمد وینا**
**د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته د افغانستان په اړه معلومات ورکول**
**د ۲۰۲۵کال د مارچ ۱۰مه**

جلالتمآبانو،

زه له تاسو مننه کوم چې ما ته مو دا فرصت راکړی، څو د افغانستان د بشري حقونو بحران په اړه تاسو ته معلومات درکړم.

زما نوم ازاده راز محمد دی. زه د افغانستان یوه حقوق پوهه یم او د "همدلي" کمپاین د بنسټایښودونکو څخه یم، چې له کلونو راهیسې د هغو درنو نړیوالو جنایتونو حساب ورکولو لپاره غږ پورته کوي، چې په افغانستان کې ترسره شوي او نن ورځ د طالبانو په واکمنۍ کې له معافیت سره دوام لري.

په ۲۰۲۱ کال کې، طالبانو هڅه وکړه چې ځانونه نړیوالې ټولنې ته د یوې اصلاح شوې ډلې په توګه وښيي[1]، ژمنه یې وکړه چې د بشري حقونو، په ځانګړې توګه د ښځو د حقونو درناوی به وکړي[2]، خو دا یوازې یوه دروغجنه ادعا وه چې نړیوالې ټولنې ژر پرې باور وکړ. افغان میرمنو تاسو ته هماغه وخت خبرداری درکړ چې که فرصت ورکړل شي، طالبان به هره هغه لاسته راوړنه له منځه یوسي چې موږ یې د ۱۹۹۰ لسیزې کې د دوی د ظالمانه واکمنۍ راهیسې د سختو مبارزو له لارې ترلاسه کړې وې.

د تېرو درې نیمو کلونو په ترڅ کې، زموږ ویرې په حقیقت بدلې شوې. طالبانو د لږ تر لږه ۱۲۶ ظالمانه فرمانونو له لارې[3] د افغان ښځو او نجونو اساسي حقونه، لکه زدهکړه، کار، ازاد تګ راتګ، غونډې، بیان، او له تاوتریخوالي څخه خوندي د ژوند حق، ټول سلب کړي دي. د ښځو لاسرسی روغتیایي خدمتونو او عدالت ته هم سخت محدود شوی دی. طالبانو افغان ښځې دومره محوه کړي، چې اوس یې حتی د غږ اورېدل یا د مخ لیدل[4] په عام محضر کې جرم ګڼل کېږي. ښځې په خپلو کورونو کې ګواکې بندیانې شوې دي، حتی له کړکۍ څخه د باندې کتل هم پرې بند دي[5].

موږ، د افغانستان ښځې، د نړیوالو کارپوهانو سره یو ځای، د ښځو پروړاندې دغه سیستماتیک او بنسټیز ظلم ته د «جنسیتي اپارتاید[6]» نوم ورکوو.

طالبان چمتو دي چې د هر هغه چا غږ خاموش کړي چې د دوی پر وړاندې درېږي، که مظاهرهچیان وي، که د ښځو د حقونو مدافعین[7]، که روغتیایي کارکوونکي[8]، ښوونکي[9]، خبریالان[10]، حقوقي متخصصین[11]، یا پخواني امنیتي او دولتي چارواکي[12]. د طالبانو له لوري تطبیق کېدونکې سزاوې عبارت دي له :بدون د محاکمې وژنې[13]، په خپل سر نیونې[14]، جبري تري تم کیدنې[15]، شکنجه[16]، جنسي تاوتریخوالی[17]، فزیکي سزاګانې[18]، په عام محضر کې په دره (شلاق) باندې وهل[19]، او سنګسار[20]. طالبان په سیستماتیک ډول د د هزارهګانو[21]، تاجیکانو[22]، ازبکانو[23] او بلوڅانو[24] په څېر قومي او مذهبي ډلې د هدفي بریدونو، جبري بې ځایه کیدو[25]، د ځمکو ضبطولو[26] او د معیشت له منځه وړلو[27] له لارې ځوروي. د ال جي بي ټي کیو ( LGBTQI+) ټولنه، چې لا دمخه د ۲۰۲۱ د اګست وړاندې هم له جدي خطر سره مخ وه، اوس له سیستماتیک تاوتریخوالي، قتلونو، او جنسي زور زیاتي[28] سره مخ ده، ځکه طالبان غواړي سخت، دوديز جنسیتي رولونه[29] پر خلکو تحمیل کړي.

جلالتمآبانو، د دې جدي سرغړونو لپاره حساب ورکول اړین دي - او په کور دننه هم ناممکن دي .طالبانو دا خپل لومړیتوب وباله چې ټول هغه افغاني اداري ړنګې کړي چې د بشري حقونو د ودې لپاره ټاکل شوې دي، لکه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون[30] ، د ښځو چارو وزارت[31] او خپلواک قضایه قوه[32]. دوی موخه لري چې په یوه قانوني خلا کې پر افغانستان واکمني وکړي.

سره له دې چې افغانو ښځو له نړیوالو مشرانو غوښتي چې طالبان د ښځو د حقونو پر وړاندې د مخ په خرابیدونکي ظلم له امله حساب ورکړي، موږ د ملګرو ملتونو او غړو هېوادونو له خوا د طالبانو د عادي کولو لپاره خطرناک اقدامات وینو. موږ په ځانګړي ډول د تېر کال د جون په میاشت کې د دوحې دریمې (Doha III)غونډې ته حیران شوو، چیرې چې

افغاني ښځې له رسمي بحثونو محرومې شوې، او د بشري حقونو او ښځو د حقونو موضوعات د اجنډا برخه نه وه. موږ ولیدل چې دا کار طالبانو ته د ظلم د لا پراخولو جرئت ورکړ. د دې غونډې وروسته، طالبانو په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په چارو کې د ملګرو ملتونو ځانګړی راپور ورکوونکی سفر افغانستان ته منع کړ[33]، او خپله تر ټولو ظالمانه اعلامیه یې خپره کړه، چې له مخې یې ښځې د «امر بالمعرف او نهی ان المنکر » په نوم نورې هم له عامه ژوند څخه محرومې شوې[34].

موږ همداراز وینو چې سفارتونه طالبانو ته سپارل کېږي،[35] چې د بهر مېشتو افغانانو مهم خدمات له خطر سره مخ کوي. د طالبانو په ټولنیزو رسنیو کې په دوامداره توګه داسې انځورونه خپرېږي چې بهرني ډیپلوماتان او سوداګر د دې جنسیتي اپارتاید رژیم سره په مسکا د همکارۍ اعلان کوي.

دا کړنې نه یوازې د افغان ښځو او نجونو د حقونو لپاره، بلکې د نړۍ د ټولو ښځو د حقونو ته یو ژور او دایمي زیان رسوي.

د جرمونو نړیوالې محکمې (ICC) څارنوال[36] د جنورۍ په میاشت کې اعلان وکړ چې د طالبانو د دوو لوړپوړو مشرانو، په شمول د دې ډلې د مشر، د نیولو لپاره‌یې غوښتنلیک وړاندې کړی دی. دا د افغانانو لپاره د امید څرک دی، ځکه د طالبانو عادي کول له خنډ سره مخامخ کوي. دا نیولو غوښتنې د محکمې څخه غواړي څو د طالبانو له لوري د ښځو او نجونو د حقونو سرغړونې چې جنسیتی ځورونه ګڼل کېږي، د بشریت ضد جرم په توګه وپېژندل شي[37].

موږ همداراز هغه هڅې ستایو چې طالبان د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) څخه سرغړونو د نړیوال عدالت محکمې (ICJ) ته کش کړي[38].

عالیقدرو، د نړیوالو قوانینو په چوکاټ کې د جنسیتي اپارتاید د جرم په توګه پېژندلو غوښتنه، چې یو شمېر غړي هېوادونه یې ملاتړ کوي، یو تاریخي پرمختګ دی. موږ هېڅکله هغه دولتونه نه هېروو چې د دې هڅې ملاتړ کوي.

په پای کې، زه له هغو غړو هېوادونو مننه کوم چې جنسیتي اپارتاید د یو نړیوال جرم په توګه د پېژندلو غوښتنه کوي، په ځانګړي ډول د ملګرو ملتونو د بشریت ضد جرمونو نوي تړون له لارې. هیڅ اصطلاح د طالبانو هغه جنایتونه، چې د افغان ښځو او نجونو پر وړاندې یې ترسره کوي، ښه نه‌شي بیانولی. موږ به هېڅکله هغه هېوادونه هېر نه کړو چې په دې مبارزه کې زموږ تر څنګ ولاړ دي.

دا تاریخي پرمختګونه باید نړیوالې ټولنې ته دا وریاد کړي چې طالبان جنایتکاران پېژندل شوي دي او تر هغه چې د دوی بې‌ساري ظلمونه دوام لري، هېڅکله د افغانستان مشروع حکومت نه‌شي کېدای.

په پای کې، زه تاسو ته لاندې سپارښتنې وړاندې کوم.

د امنیت شورا ته:

- لومړی :دا اړینه ده چې په هر فرصت کې له طالبانو وغوښتل شي چې ژر تر ژره هغه ټول سیاستونه او اقدامات لغوه کړي چې د افغانستان د نړیوالو مکلفیتونو، په ځانګړي ډول د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) او د امنیت شورا اړوندو پرېکړو سره سم د ښځو د بشري حقونو د بشپړ تحقق مخه نیسي.
- دویم :د ښځو، سولې او امنیت د اجنډا اساسي اصولو ته په پام، د متنوعو افغان ښځو بشپړ، مساوي، اغېزناک او خوندي ګډون باید د افغانستان د راتلونکي په اړه ټولو نړیوالو بحثونو کې، په ځانګړې توګه د دوحې پروسې او د یوناما د اوسني کاري نقشې جوړېدو کې، نه ماتېدونکی اصل وي. هغه غونډې چې د افغانستان د برخلیک پرېکړې پکې کېږي، خو افغان ښځې پکې نه وي، هیڅ مشروعیت نه لري.
- درېیم :د امنیت شورا باید د یوناما ماموریت تمدید کړي او د هغې د بشپړې پلي کېدو لپاره فشار راوړي، په ځانګړي ډول د ښځو د حقونو ساتنه، د بشري حقونو څارنه، د ښځو د حقونو مدافعینو ملاتړ، او له متنوع افغان مدني ټولنو سره جدي تعامل. یوناما اید د ښځو او نجونو د وضعیت په اړه امنیت شورا ته منظم راپورونه وړاندې کړي.

- ورروستی :زه له امنیت شورا غواړم چې د طالبانو پر ټولو هغو مشرانو بندیزونه ولګوي چې د افغان ښځو او نجونو پر ضد یې بشري حقونه نقض کړي دي، او پر داسې اشخاصو دې بندیزونه، په ځانګړي ډول سفر بندیزونه، نه پورته کیږي، چې د دغو جنایتونو مسؤل دي.

د ټولو غړو هېوادونو ته، زه له تاسو غواړم چې:

د نړیوالي جنايي محکمې (ICC) له هڅو بشپړ ملاتړ وکړئ، ترڅو د طالبانو د ټولو لوړپوړو مشرانو پر ضد د جنسیتي ځورنې، د بشریت ضد جنایتونو، او د ۲۰۰۳ کال راهیسې د افغانستان د جنګي جنایتونو په اړه قانوني تعقیب ترسره شي.

- د نړیوالې قضایي صلاحیت (Universal Jurisdiction) وکاروئ، ترڅو طالبان، چې نړیوال جنایتونه ترسره کوي، محاکمې ته راوستل شي.
- د جندر اپارتاید د بشریت ضد جرم په توګه پېژندلو غوښتنه وکړئ، په ځانګړي ډول د بشریت ضد جرمونو د نوي نړیوال تړون له لارې، چې اوس مهال د ملګرو ملتونو عمومي شورا کې تر غور لاندې دی.
- د طالبانو لهخوا د CEDAW کنوانسیون د سرغړونو پر وړاندې ژر تر ژره حقوقي اقدامات وکړئ، په ځانګړي ډول د عدالت نړیوالې محکمې (ICJ) له لارې رسمي دعوې وړاندې کړئ. هغه هېوادونه چې لا هم دې هڅو کې نه دي شامل شوي، باید سمدلاسه اقدام وکړي.
- د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا (UNHRC) باید ژر تر ژره یو حساب‌ورکونې میکانیزم رامنځته کړي، ترڅو په افغانستان کې د جندر پر اساس جنایتونو اسناد راټول، مستند، او خوندي شي.

جلالتمآبانو،

د افغانستان د یوې ښځې په توګه، ما لیدلي دي چې څنګه د تیرو جرمونو نا حل شوي میراثونو زما هیواد د تاوتریخوالي او بې ثباتۍ په یوه کړۍ کې بند کړی دی .که د افغانستان خلکو کولی شوای چې طالبان په ۲۰۰۱ یا له هغې وړاندې حساب‌ورکونې ته مجبور کړي، نو شاید موږ به شل کاله وروسته د طالبانو د تاوتریخوالي بیرته واک ته د راستنیدو شاهد نه وای.که معافیت ناروغي وي، نو حساب ورکول یوازینی درمل دي.

مننه.

---

[1] OHCHR, “Afghanistan: UN human rights experts denounce idea of ‘reformed’ Taliban,” 14 August 2023, https://www.ohchr.org/en/statements/2023/08/afghanistan-un-human-rights-experts-denounce-idea-reformed-taliban.
[2] Ahmad Seir et. al., “Taliban vow to respect women, despite history of oppression.” AP News, 17 August 2021, https://apnews.com/article/afghanistan-taliban-kabul-1d4b052ccef113adc8dc94f965ff23c7.
[3] Based on internal tracking in forthcoming publication by FEMENA; USIP, “Tracking the Taliban's (Mis)Treatment of Women,” accessed 26 February 2025, https://www.usip.org/tracking-talibans-mistreatment-women.
[4] Briefing by Sima Bahous, Executive Director of UN Women, to the Security Council on the situation in Afghanistan, 18 September 2024, https://www.unwomen.org/en/news-stories/speech/2024/09/speech-we-must-step-forward-the-situation-is-not-hopeless-and-we-are-not-helpless; Human Rights Watch, “Taliban’s Relentless Assault on Afghan Women’s Bodies, Autonomy,” 27 August 2024, https://www.hrw.org/news/2024/08/27/talibans-relentless-assault-afghan-womens-bodies-autonomy.
[5] France24, “Taliban leader bans windows overlooking places ‘usually used by women’,” 29 December 2024, https://www.france24.com/en/live-news/20241229-taliban-leader-bans-windows-overlooking-women-s-areas.
[6] End Gender Apartheid Campaign, accessed 26 February 2025, https://endgenderapartheid.today/index.php; “The phenomenon of an institutionalized system of discrimination, segregation, disrespect for human dignity and exclusion of women and girls - Report of the Special Rapporteur on the situation of human rights in Afghanistan,” 13 May 2024, A/HRC/56/25, https://www.ohchr.org/en/documents/country-reports/ahrc5625-phenomenon-institutionalized-system-discrimination-segregation; UN Security Council Briefing on Afghanistan by Karima Bennoune, 26 September 2023, https://www.womenpeacesecurity.org/resource/un-security-council-briefing-afghanistan-karima-bennoune/.
[7] OHCHR, “Afghanistan: UN expert calls on the Taliban to release Women Human Rights Defenders,” 8 March 2024, https://www.ohchr.org/en/statements/2024/03/afghanistan-un-expert-calls-taliban-release-women-human-rights-defenders; Human Rights Watch, “Women’s Rights Activists Under Attack in Afghanistan,” 30 November 2023, https://www.hrw.org/news/2023/11/30/womens-rights-activists-under-attack-afghanistan.
[8] “Report of the Special Rapporteur on the situation of human rights in Afghanistan, Richard Bennett,” ¶16-23, 20 February 2025, A/HRC/58/80, https://www.ohchr.org/sites/default/files/2025-02/a-hrc-58-80-aev-1-en.pdf.
[9] Siyar Sirat, “Taliban arrest education activist in Kabul, sources say.” Amu TV, 25 February 2025, https://amu.tv/159721/; PEN International, “Afghanistan: Arrest of girls’ education activists latest example of Taliban repression,” updated 26 October 2023, https://www.pen-international.org/news/afghanistan-arrest-of-girls-education-activist-latest-example-of-taliban-repression.

[10] Report of the Special Rapporteur *supra* note 7, ¶31-37; France24, "Taliban suspend Afghan women's radio station, arrest employees," 4 February 2025, https://www.france24.com/en/live-news/20250204-taliban-raid-women-s-radio-station-in-afghanistan-broadcaster; UNAMA, "Media Freedom in Afghanistan,", 26 November 2024, https://unama.unmissions.org/sites/default/files/unama_report_on_media_freedom_in_afghanistan.pdf.

[11] OHCHR, "UN experts: legal professionals in Afghanistan face extreme risks, need urgent international support," 20 January 2023, https://www.ohchr.org/sites/default/files/documents/issues/ijudiciary/statements/2023-01-17/202301-stm-sr-ijl-sr-afghanistan-day-endangered-lawyer.pdf.

[12] Human Rights Watch, "Double Betrayal: Abuses against Afghan Policewomen, Past and Present," 10 October 2024, https://www.hrw.org/report/2024/10/10/double-betrayal/abuses-against-afghan-policewomen-past-and-present.

[13] UNAMA, "A Barrier To Securing Peace: Human Rights Violations Against Former Government Officials & Former Armed Force Members," pp. 6-7, 22 August 2023, https://unama.unmissions.org/barrier-securing-peace-hr-violations-against-former-government-officials-former-armed-force-members.

[14] Ibid, pp. 7-9; Rawadari, "Arbitrary and Illegal Detentions in Taliban-Ruled Afghanistan, 15 August 2021-15 November 2022," 23 January 2023, https://rawadari.org/230120231263.htm/.

[15] UNAMA *supra* note 12, p. 7.

[16] Report of the Special Rapporteur *supra* note 7, ¶82-85; Zholia Parsi, "I was imprisoned and tortured by the Taliban for protesting gender apartheid in Afghanistan," Atlantic Council, 14 August 2024, https://www.atlanticcouncil.org/content-series/inside-the-talibans-gender-apartheid/i-was-imprisoned-and-tortured-by-the-taliban-for-protesting-gender-apartheid-in-afghanistan/.

[17] Yalda Amini, "Women arrested by Taliban for begging report rape and killings in Afghan jails," The Guardian and Zan Times, 29 November 2024, https://www.theguardian.com/global-development/2024/nov/29/afghanistan-taliban-women-children-arrested-begging-rape-torture-killings-jails-destitution-work-ban; "Report of the Special Rapporteur on the situation of human rights in Afghanistan, Richard Bennett," ¶21-24, 30 August 2024, A/79/330, https://docs.un.org/en/A/79/330.

[18] UNAMA, "Brief on Corporal Punishment and the Death Penalty in Afghanistan," pp. 13-16, 7 May 2023, https://unama.unmissions.org/unama-brief-corporal-punishment-and-death-penalty.

[19] Ayaz Gul, "Men, women experience near daily public floggings in Afghanistan," Voice of America, 18 February 2025, https://www.voanews.com/a/men-women-experience-near-daily-floggings-in-afghanistan/7979256.html; OHCHR, "Comment by UN Human Rights spokesperson Jeremy Laurence on public executions in Afghanistan," 28 February 2024, https://www.ohchr.org/en/statements/2024/02/comment-un-human-rights-spokesperson-jeremy-laurence-public-executions [also discussing the persistence of corporal punishment in public].

[20] Ayaz Gul, "Taliban Chief Defends Islamic Criminal Justice System, Including Stoning Women for Adultery," Voice of America, 24 March 2024, https://www.voanews.com/a/taliban-chief-defends-islamic-criminal-justice-system-including-stoning-women-for-adultery-/7540581.html; UNAMA *supra* note 17, pp. 13, 18.

[21] Human Rights Watch, "Afghanistan's Hazara Community Needs Protection," 13 September 2024, https://www.hrw.org/news/2024/09/13/afghanistans-hazara-community-needs-protection; Amnesty International, "Afghanistan: Taliban torture and execute Hazaras in targeted attack – new investigation,"15 September 2022, https://www.amnesty.org/en/latest/news/2022/09/afghanistan-taliban-torture-and-execute-hazaras-in-targeted-attack-new-investigation/.

[22] Report of the Special Rapporteur *supra* note 7, ¶48; Mark Townsend, Jessica Purkiss and Fahim Abed, "Revealed: the truth behind the Taliban's brutal Kabul 'regeneration' programme," The Guardian, 18 November 2024, https://www.theguardian.com/global-development/2024/nov/18/revealed-the-truth-behind-the-talibans-brutal-kabul-regeneration-programme.

[23] Report of the Special Rapporteur *supra* note 7, ¶106-107; Zarif Nazar and Abubakar Siddique, "Taliban Accused of Forcibly Evicting Ethnic Uzbeks, Turkmen In Northern Afghanistan," Radio Free Europe, 9 December 2021, https://www.rferl.org/a/taliban-evictions-uzbeks-turkmen/31601904.html.

[24] "Taliban Commander's Ethnic Bias Against Nimruz Baloch: 'Go to Iran; This Place Isn't Yours," 8am Media, 12 November 2024, https://8am.media/eng/taliban-commanders-ethnic-bias-against-nimruz-baloch-go-to-iran-this-place-isnt-yours/.

[25] Mark Townsend, Jessica Purkiss and Fahim Abed *supra* note 21; Human Rights Watch, "Afghanistan: Taliban Forcibly Evict Minority Shia," 22 October 2021, https://www.hrw.org/news/2021/10/22/afghanistan-taliban-forcibly-evict-minority-shia.

[26] Genocide Watch, "Taliban Confiscate Hazara Land," 13 October 2023, https://www.genocidewatch.com/single-post/statement-on-forcible-displacement-and-land-confiscation-of-hazaras-by-taliban.

[27] Report of the Special Rapporteur *supra* note 7, ¶107.

[28] Ibid, ¶67-68; "Report of the Special Rapporteur on the situation of human rights in Afghanistan, Richard Bennett," ¶53-55, 30 August 2024, A/79/330, https://docs.un.org/en/A/79/330.

[29] Afghan LGBTIQ+ Organization, "In the Shadow of the Taliban: Untold Stories of LGBTIQ+ Persecution in Afghanistan," 1 November 2023, https://afghanlgbt.com/en/content/oXRV/; Outright International, "A Mountain on My Shoulders: 18 Months of Taliban Persecution of LGBTIQ Afghans," 14 February 2023, https://outrightinternational.org/sites/default/files/2023-02/Afghanistan%20Report_OutrightInternational_7.pdf.; Outright International and Human Rights Watch, "'Even If You Go to the Skies, We'll Find You:' LGBT People in Afghanistan After the Taliban Takeover," 26 January 2022, https://outrightinternational.org/sites/default/files/2022-09/afghanistan_lgbt0122_web_0.pdf.

[30] OHCHR, "Comment by Michelle Bachelet, UN High Commissioner for Human Rights, on the dissolution of Afghanistan's Independent Human Rights Commission," 19 May 2022, https://www.ohchr.org/en/press-releases/2022/05/comment-michelle-bachelet-un-high-commissioner-human-rights-dissolution.

[31] Heather Barr, "For Afghan Women, the Frightening Return of 'Vice and Virtue'," Human Rights Watch, 29 September 2021, https://www.hrw.org/news/2021/09/29/afghan-women-frightening-return-vice-and-virtue.

[32] OHCHR, "UN experts: legal professionals in Afghanistan face extreme risks, need urgent international support," 20 January 2023, https://www.ohchr.org/sites/default/files/documents/issues/ijudiciary/statements/2023-01-17/202301-stm-sr-ijl-sr-afghanistan-day-endangered-lawyer.pdf.

[33] OHCHR, "UN Special Rapporteur says committed to people of Afghanistan despite Taliban barring entry," 21 August 2024, https://www.ohchr.org/en/statements/2024/08/un-special-rapporteur-says-committed-people-afghanistan-despite-taliban-barring; Reuters, "Taliban bars UN human rights special rapporteur from Afghanistan," 21 August 2024, https://www.reuters.com/world/asia-pacific/taliban-bars-un-human-rights-special-rapporteur-afghanistan-tolo-news-2024-08-21/.

[34] OHCHR, "Afghanistan: Repressive law must be immediately repealed," 27 August 2024, https://www.ohchr.org/en/press-briefing-notes/2024/08/afghanistan-repressive-law-must-be-immediately-repealed.

[35] Milad Sayar, "Exclusive: Afghanistan's 12 embassies, two consulates still operated by former government diplomats," Amu TV, 16 February 2025, https://amu.tv/157935/; Mohammad Yunus Yawar, "Taliban in control of 39 Afghan embassies globally," Reuters, 19 September 2024, https://www.reuters.com/world/middle-east/taliban-control-39-afghan-embassies-globally-2024-09-19/.
[36] International Criminal Court, "Statement of ICC Prosecutor Karim A.A. Khan KC: Applications for arrest warrants in the situation in Afghanistan," 23 January 2025, https://www.icc-cpi.int/news/statement-icc-prosecutor-karim-aa-khan-kc-applications-arrest-warrants-situation-afghanistan.
[37] ICC, "Public redacted version of Prosecutor's application under article 58 for a warrant of arrest against Haibatullah Akhundzada," ¶31-127, 23 January 2025, https://www.icc-cpi.int/sites/default/files/CourtRecords/0902ebd180a915c7.pdf; ICC, "Public redacted version of Prosecution's application under article 58 for a warrant of arrest against Abdul Hakim Haqqani," ¶31-127, 23 January 2025, https://www.icc-cpi.int/sites/default/files/CourtRecords/0902ebd180a915c8.pdf.
[38] German Federal Foreign Office, "Initiative on accountability for Afghanistan's violations of the UN Convention on the Elimination of All Forms of Discrimination against Women," 13 January 2025, https://www.auswaertiges-amt.de/en/aussenpolitik/cedaw-2694096.